مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور اځر ۲۰۲۳/۰۹/۱۷

# غازي امان الله خان د انګرېزي استخباراتو په لومه کې

(اوومه برخه)



(ښي خوا په کابل کې انګرېز سفير، سرفرانسيس همفريز، فضل عمر مجددي مشهور په نورالمشايخ شېرآغا، حبيب الله کلکانی مشهور په بچه سقاؤ)

## د امان الله خان پر وړاندې د انګرېزانو، مجدديانو او سقاؤيانو ګډې تخريبي کړنې

له ډيورنډ کرښې هاخوا د انګرېزانو په مرسته د شېرآغا فعاليتونه د کوچيانو په منځ کې روان وو او په افغانستان کې د تخريبي کړنو لپار د پيسو په ټولولو لګيا ؤ «په کابل کې د بهرنيو چارو وزير غلام صديق له همفريز څخه غوښتنه وکړه چې فضل عمر مجددي، مشهور په شېرآغا دې د هند د کنډال له ښاره وباسي او له افغاني سرحد څخه دې لېرې ولېږل شي، په دې چې ويل کيدل د امان الله پر ضد د پروپاګنډ کولو په خاطر پيسې ټولوي، نور نو له شېرآغا سره د پخلاکيدو اميدونه قطع شوي وو، همفريز په بې علاقه‌ګۍ سره غلام صديق ته ورياده کړه چې هغه په افغانستان کې ځينو کسانو ته اجازه ورکړي وه چې د هند پر بريتانويانو پسې پروپاګنډ وکړي.»[1]
دا مهال چې د کابل په شمال کې حالات ترينګلي وو او د سقاؤ زوی بنه ځواکمن شوی ؤ، د تګاب ملا حميد الله له سقاؤ څخه ملاتړ پيل کړی ؤ نو امان الله خان له تګاب ملا سره د روغې جوړې په موخه، د ۱۹۲۹ز، کال د جنوری په ۷مه نېټه، «[محمد صادق مجددي مشهور په] ګل‌آغا او معصوم مجددي له بنديخانې راوايستل، ورته ويې ويل چې تاسو آزاد

[1]: ريه تالي ستيوآرت: اور په افغانستان کې. ۵۳۷مخ


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په ځير و لولئ

یاست په دې شرط چې د تګاب ملا سره خبرې وکړئ او د سقاؤ د زوی له موضوع یې بېل کړئ، همدا راز هغه یو نماینده هند ته واستاوۀ چې شېرآغا ته ووایي چې ورور یې خوشې کړای شوی دی.»[2]
د امان الله خان لخوا له بند څخه د مجددیانو خوشي کول او یاغیانو ته د دوی ورلېږل په داسي ناوړه حالت کې یوه تېروتنه وه، مجددیان هغه کسان وو چې لږه موده وړاندې د امان الله خان پر خلاف پکتیا ته تللي وو، دوی غوښتل چې د حکومت پر خلاف قومونه راوپاروي چې په همدې جرم د امان الله خان لخوا په بند کې ساتل شوي وو او د دغو مجددیانو مشر ورور، شېرآغا څو کاله مخکې د خوست له یاغیانو سره د لاس لرلو په تور له هېواده شړل شوی ؤ، نو دا ناشوني وه چې مجددیانو د امان الله خان (چې دوی خپل دښمن باله) په ګټه کار وکړي. مجددیانو له خدایه داسي حالت غوښت چې د حکومت پر خلاف پاڅونونه رامنځ ته شي او امان الله خان له منځه ولاړ شي، د دې پر ځای چې د مجددیانو په خوشي کیدلو سره امنیتي حالات ښه شي د دوی د لمسون له امله وضعیت لاپسې کړکېچن شو چې د یاغیانو مورال لوړ او د دولتي ځواکونو مورال مخ په ټیټیدو شو.
سقاویان د کابل ښار په څنډو کې له دولتي او یو شمېر قومي ځواکونو سره په جګړه لګیا وو، «تېره شپه [د لیندۍ په ۲۳مه] د امان الله خان ځواکونو د سقاؤیانو پر وړاندې ماتې خوړلې وه، پاچا سهار وختي خبر شوی ؤ، عنایت الله خان یې راغوښتی ؤ او د پاچا کیدو غوښتنه یې ترې کړې وه، عنایت الله خان چې کړکېچن حالت ته کتلې وو نو د دغه وړاندیز له منلو یې انکار کړی ؤ خو امان الله خان یې پر سر توپانچه ورنیولې وه، په زور یې [پاچاهي] پرې منلې وه.»[3]
میر غلام محی الدین انیس چې په کابل کې د حالاتو څارونکی او لیدونکی ؤ، لیکي چې د لیندۍ په ۲۴مه نېټه د کابل په ښار او دولتي ادارو کې اعلان وشو چې د ارګ په دلکشا مانۍ کې یوه رسمي بیانیه اورول کیږي چې باید ټول کسان هلته حاضر وي.
انیس وايي:... د دلکشا مانۍ پر وړاندې د راغونډو شویو خلکو پر دغه لویه غونډه باندې یوه عجیبه چوپتیا خپره وه. له غرمې وروسته په یوه نیمه بجه معین السلطنه، سردار عنایت الله خان راووت چې یو خوا ته یې سرمنشي ولاړ ؤ او د امان الله خان استعفالیک یې ولوست... خبر ناڅاپي ؤ چې له امله یې خلک ډېر سخت خواشیني کړل، امان الله خان په خپل استعفالیک کې ویلي وو چې دا د هېواد غوښتنه ده چې باید زه له کاره لاس واخلم چې ټول انقلابونه [بغاوتونه] او وینې تویېدنې له ما سره د مخالفتونو له امله رامنځته شوي دي.»[4]
په همدې ورځ د سهار «په نهو بجو امان الله خان د کندهار پر لور وخوځید. په داسي حال کې چې څو ورځې وړاندې ملکه ثریا او د شاهي کورنۍ ځینې غړي کندهار ته په الوتکه کې لېږل شوي وو چې له امله یې د کابل پر خلکو ناوړه اغېز او د حکومت د سقوط لپاره یې یو بل دلیل رامنځته کړی ؤ.»[5] انیس لیکي:«د ورځې په ۳ بجو د حضرت محمد صادق مجددي په مشرۍ چې د بېلابېلو قومونو او د کابل مخور کسان ورسره مله وو، د اشرارو [سقاویانو] سره د خبرو په موخه په څو موټرو کې د کابل ښار شمال ته ولاړ، کله چې نوموړی پلاوی د جګړې لومړۍ کرښې ته ورسید، د حکومت سرتېرو او قومي سرتېرو ته، [د مجددیانو له نظره] خوشخبري ورکړای شوه چې د امان الله خان پاچاهي پای ته رسیدلې ده او عنایت الله خان پاچا شوی دی، دغه خبر په سرتېرو کې یو فکري مصروفیت رامنځته کړ او په تزلزل کې پرېوتل.»
انیس زیاتوي چې پلاوی اشرارو وړاندې تګ ته پرې نښود او خپلې جګړې ته یې دوام ورکړ چې د ماښام په ۷بجو عسکرو او قومي ډلو چې خپل حواس او مورال یې له لاسه ورکړي وو له جګړې لاس واخیست او کابل ښار ته راغلل او هرې خوا ته خواره شول.[6]
کابل مېشتو فکر کاوه چې اوس خو امان الله خان له واکه ګوښه شو نو جګړه به پای ته ورسیږي، له بده مرغه چې داسي ونه شول، سقاؤ د انګرېزانو او مجددیانو په لمسون جګړې ته دوام ورکړ. عیني شاهد استاد سید مجتبی علي لیکي:«... د سقاؤ زوی به نور ولې جګړه کوي، د شور بازار حضرت او سردار محمد عثمان خان د عنایت الله خان دا پیغام چې

---

2: اور په افغانستان کې. ۶۲مخ
3: سید مجتبی علي: په یو بل وطن کې، ژباړن: نورالحق حیدر. ۲۷۷مخ
4: میر غلام محی الدین انیس: بحران و نجات. ۹۳مخ
5: بحران و نجات. ۸۸مخ

6: بحران و نجات. ۹۴مخ


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

(کافر امان الله چې له واکه لرې شوی دی، نور نو د څه لپاره جګړه کوئ؟) اوس به د سقاؤ زوی خپل کور ته ولاړ شي، دی خو له عنایت الله خان سره دښمني نه لري.»[7]
د کابل ښاریانو د تمې پر خلاف سقاؤ له جګړې لاس وانه خیست، سقاؤ فکر کاوه چې د افغانستان راتلونکی پاچا دی، هغه مهال چې امان الله خان له سقاؤ سره تړون لاسلیک کړ نو په شمالي کې د ده عزت او اعتبار زیات شو، «یو شمېر خانان او غله د ملاوېس‌الدین په کلا (کلکان) کې د شپې لخوا سره راټول شول او د سقاؤ زوی یې د افغانستان د پاچا په توګه ونوماوۀ او دستار یې پر ملا ورو‌تاړۀ... .»[8]
له دې امله چې څو تنو غلو او رهزنو د سقاؤ زوی خپل مشر ټاکلی ؤ نو سقاؤ ته یې هم خوند ورکړ چې ګواکې د افغانستان پاچا دی نو د عنایت الله خان سره یې د سولې له خبرو ډډه وکړه، هغه وو چې «بچه سقاؤ له جګړې لاس اخیستل رد کړل، هغه ویل: د پاچاهۍ تاج خلکو زما پر سر ایښی دی زه باید د خلکو غوښتنه ومنم.»[9]
ارګ د سقاؤیانو لخوا کلابند شوی ؤ، د سقاؤ زوی عنایت الله خان ته ګواښ کړی دی چې که واک پرېنږدې نو ښار به لوټ او قتل عام به وکړي. عنایت الله خان ورته په ځواب کې ویلي دي: له هر کابلي سره ټوپک شته، ښې ډېرې مرمۍ هم لري، مېړې چې خپل پوستکی نه شي ساتلی نو ښه ده چې ومري.
بل خبر داسې ؤ چې بچه سقاؤ ګواښ کړی دی: که عنایت الله خان تسلیم نه شي نو دی به د هغو وزیرانو، چارواکو او عسکرو چې د ارګ په کلا کې یې پناه اخیستې ده، کورنۍ ووژني.[10]
دا مهال چې د شوربازار ګل‌آغا پوه شو چې عنایت الله خان هم د ټینګې نه دی نو د هم پاچاهۍ خوب ولید، هغه وو چې نومړي «د سقاؤ زوی ته وویل چې عنایت الله دې د پاچا په توګه پاتې نه شي او پاچاهي دې ګل آغا ترلاسه کړي... سقاؤ زوی ګل‌آغا ته وویل چې تا اشتباه کړې ده، زه په خپله د افغانستان پاچا یم.»[11]
دا چې د ګل‌آغا د پاچا کیدلو غوښتنه سقاؤ ونه منله نو دا یې ښه وبلله چې د عنایت الله خان پر ځای د سقاؤ زوی پاچا شي «... که بچه سقاؤ عنایت الله خان له واکه لېرې کړي، نو دا بیا د شوربازار د حضرت لپاره ډېره ښه ده، هغه د بچه سقاؤ پوره ملاتړ کوي، دی چې پاچا شي نو بیا به دغه ملایان د مخ په کتار کې ناست وي، د ملایانو مشر د شوربازار حضرت به د هېواد اصلي پاچا وي.»[12]
«د سقاؤ او سردار معین السلطنه ترمنځ د حضرت محمد صادق خان [ګل‌آغا] او محمد عثمان خان او څو تنو نورو په منځګړیتوت خبرې روانې وې چې په پای کې یو اوږد تړون د قرآن شریف پر پاڼو باندې په دې مضمون ولیکل شو چې معین السلطنه به سقاؤ ته ارګ تسلیموي، معین السلطنه او کورنۍ به یې د انګرېزانو په الوتکو کې هند ته رسول کیږي او سقاؤ به په قرآن مجید کې د تړون پر بنسټ، د دولت ټول کارکوونکي او هغه سرتیري چې په ارګ کې ځای پر ځای دي هېڅ ډول زیان نه رسوي.»[13]
د ۱۹۲۹ز، کال د جنورۍ د ۱۷مې نېټې په ماسپښین ګل‌آغا د بریتانیې نمایندګۍ ته ولاړ، غوښتنه یې وکړه چې له سرفرانسیس همفریز سره ووینې دا د هغه په ژوند کې لومړی ځل ؤ چې له یو نامسلمان سره مخامخ خبرې کوي، هغه له ځان سره یو مکتوب درلود... په مکتوب کې داسې لیکل شوي: شهزاده عنایت الله له پاچاهۍ لاس اخیستی دی او په خپله خوښه یې د اعلیحضرت حبیب الله تابعیت قبول کړی دی، هغه تقاضا کړې ده چې دی او د کورنۍ شل تنه غړي چې زیاتره یې ماشومان دي، باید د الوتکې په ذریعه کندهار ته واستول شي. موږ کومه مناسبه الوتکه نه لرو نو له تاسو څخه هیله کوو چې یوه الوتکه موږ ته برابره کړئ او د سبا سهار د اتو او لسو بجو ترمنځ د شېرپور په هوايي ډګر کې دې ښکته شي.
ګل آغا وویل دا د کابل د تباهۍ د مخنیوي یوازینی لاره ده. همفریز ځواب ورکړ چې د بریتانیې هېڅ یوه الوتکه کندهار ته نه شي تللی ځکه چې د هغې د امنیت ضمانت نه شي کیدی. مګر هغه موافقه وکړه چې له خپل حکومت څخه به وغواړي چې دوې لویې الوتکې راواستوي چې سلطنتي کورنۍ پېښور ته انتقال کړي، له هغه ځایه به د اورګاډي په

---

7: په یو بل وطن کې. ۲۷۷مخ
8: میر غلام محمد غبار: افغانستان در مسیر تاریخ. ۸۲۲مخ
9: په یو بل وطن کې. ۲۸۰مخ
10: هماغه کتاب. ۲۸۱مخ
11: اور په افغانستان کې. ۵۹۸مخ
12: په یو بل وطن کې. ۲۷۹مخ
13: بحران و نجات. ۹۸مخ


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په ځیر و لولئ

ذریعه تر چمن پورې ورسول شي او له هغه ځایه به افغانستان ته واستول شي.[14] «سرفرانسیس د عنایت الله خان د کورنۍ د خوندي ایستلو مسؤلیت په غاړه اخیستی دی.»[15] انګرېز سفیر همفریز له خدایه دا غوښتل چې عنایت الله خان له کابله وباسي او سقاؤ واک ترلاسه کړي نو له پېښوره یې الوتکې راوغوښتې، په چټکۍ سره یې عنایت الله او د هغه کورنۍ پېښور ته ورسول او له هغه ځایه یې پرته له ځنډه د کوټې چمن ته په رېل ګاډي کې ورسول شول، انګرېزانو نه غوښتل عنایت الله خان په پېښور یا د انګرېزانو تر واک لاندې سیمو کې پاتې شي، په دې چې د افغانستان د پاچاهۍ لپاره د انګرېزانو اصلي کاندید جنرال نادر خان له فرانسې څخه د انګرېزانو په قیصر نومې بېړۍ کې په لاره ؤ.
پر کابل باندې د سقاؤ د یرغل پر مهال د شور بازار حضرتان په ځانګړي توګه ګل‌آغا د انګرېزانو سفارت په خدمت کې ؤ او د انګرېز سفارت د ساتونکي دنده یې ترسره کوله. په یو ټلیګرام کې چې سر فرانسیس د ۱۹۲۹ز، د جنوري په ۱۴مه نېټه لندن ته استولی دی په کې لیکل شوي دي:«نن شپه زه خاص تدابیر نیسم، د شوربازار حضرت صاحب او د کندهار پخوانی والي محمد عثمان خان ځانونه د سفارت د دروازې په خوله کې په یوه کوچني کور کې ځای پر ځای کړي دي، دوی موږ ته پیغام رااستولی دی چې دوی به له غلو څخه زموږ د ساتلو لپاره دلته پاتې کېږي، نن شپه د غلا او لوټ ډېر احتمال شته.»[16]
د لیندۍ په ۲۴مه نېټه د سقاؤ ځواکونو کابل اشغال کړ او هغه بې ناموسۍ او وحشتونه چې د کابل ښاریانو او دولتي چارواکو پر وړاندې یې ترسره کړې د افغانستان او اسلام په تاریخ کې ساری نه لري، سره له دې چې سقاؤ د قرآن حکیم پر پاڼو ژمنه کړې وه چې کابل ښاریانو او د امان الله خان د حکومت چارواکو او سرتېرو ته به هېڅ ډول زیان نه رسوي.

نېټه: ۱۴۰۲/۶/۲۶ل. ل

**نور بیا**

---

**[14]: اور په افغانستان کې. ۶۰۰مخ**
**[15]: په یو بل وطن کې. ۲۸۲مخ**
**[16]: سید مجتبی علي، د خاطرو کتاب (په یو بل وطن کې) له سریزه څخه**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ